**د افغانستان اسلامی امارت**
**د ارشاد حج او اوقافو وزارت**
**د مجمع علمی ریاست**
**د إفتاء آمریت**

**شماره ...............** **تاریخ ۲۱/ حمل / ۱۴۰۱**

---

**داچی د روژې مبارکه میاشت جریان لري نو لازمه ده ځود مجمع علمي ریاست لطرفه په دی باره کی په تفصیل سره اړوند مسایل راټول اوترتیب شی څوله همدي لاري بیا دهمدي وزارت د خپرونو ریاست لخوا د مجلې او ویت سایت له لاري دافغانستان ټولو وګړو ته دګټې اخیستلو لپاره خپاره شي.**
**بناء ښاغلی مفتی صاحب ستاسودرانه حضور ته دروژې مبارکي اړوند مسایل او احکام په لاندې ډول په (۱۸) پاڼوکی ترتیب او د لازمو اجرآتو لپاره وړاندی کیږی.**

## روژه د اسلام مبین دین دریمه بناء ده

په دی اړوند به‌په زیاتو مهمو مواردو باندي کیږي لکه (۱) د روژ ې فضیلت (۲) د روژی فردي ګټې (۳) د روژي اجتماعي ګټې(۴) د روژی صحي ګټې (۵) روژه د تقوی سبب ده (۶) رمضان د بدلون میاشت ده (۷) رمضان د ارادو د ننداري فرصت ده (۸) څرنګه له رمضان څخه غوره ګټه واخلو (۹) د روژې آداب (۱۰) رمضان د قرآن، جهاد، تعاون او تغیر میاشت ده (۱۱) پشلمی یا سحري (۱۲) په روژه ماتی کې بیړه او په پشلمي کې تأخیر کول (۱۳) روژه دار ته د روژه ماتي برابرولو دثوابونو نه (۱۴) په روژه کي له حرامو کارو اوبیکاره خبرو ځان ساتل (۱۵) دروزی مکروهات (۱۶) دروزی مفسدات (۱۷) هغه کړنې چه دهغه پر کولو د روژی قضا واجبه ده (۱۸)هغه کړنې چی قضا اوکفاره دواړه پری واجب دی (۱۹) دصدقة الفطرمعنی (۲۰) دصدقة الفطر حکمت او ګټې (۲۱) دصدقة الفطر حکم (۲۲) د دصدقة الفطر داداکیدو وخت (۲۳) صدقه فطر دکومو خلکو د طرف نه ورکول واجب دي (۲۴) دفطردصدقی اندازه (۲۵) دفطر صدقه چا ته ورکړل شي (۲۶) دلیلة القدر باعظمته شپه (۲۷) د لیلة القدر د شپې تعیین (۲۸) د لیلة القدر ځنې علائم (۲۹) د اختر د شپې فضیلت(۳۰) د اعتکاف تعریف (۳۱) داعتکاف حکم (۳۲) د اعتکاف شرطونه (۳۳) د ښځو اعتکاف (۳۴) په اعتکاف کې حرام یا مکروه تحریمي کړنې (۳۵) د قیامت په ورځ د روژي او قرآن دشفاعت کول .

## لومړی د روژی فضیلت :

د نورو امتونو په پرتله د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم امت ته د هری نیکی په بدل کې لس چنده یا تر هغه هم زیاته بدله ورکول کیږي ولی روژه ددی څخه هم بالاتره ده.
الهی پیغام دی چه روژه زما لپاره ده او زه به څنګه چه غواړم ددی اجر او ثواب به ورکوم زما بنده زما د رضاء لپاره خپل دنفس خواهش ،خوړل او څښل پریږدي, نو بس زه به په خپله خوښه د دی قربانۍ بدله ورکوم چه دهمدغه موضوع په رابطه د حدیث شریف متن په بخاری شریف کی داسی راغلی:
**(۱) – (عن أبي هريرة، عن النبي صلى الله عليه وسلم، قال: " يقول الله عز وجل: الصوم لي وأنا أجزي به، يدع شهوته وأكله وشربه من أجلي (بخاري شریف لومړی ټوک (۵۵۰) مخ)**
ژباړه الله جل جلاله فرمای روزه زما لپاره ده او زه ددی اجر ورکوم (داځکه چی زما بنده زما د رضاء لپاره )خپل دنفس خواهش ،خوړل او څښل پریږدي.

**(۲) - (عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " إِنَّ فِي الْجَنَّةِ بَابًا يُقَالُ لَهُ الرَّيَّانُ، يَدْخُلُ مِنْهُ الصَّائِمُونَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، لَا يَدْخُلُ مَعَهُمْ أَحَدٌ غَيْرُهُمْ، يُقَالُ: أَيْنَ الصَّائِمُونَ؟ فَيَدْخُلُونَ مِنْهُ، فَإِذَا دَخَلَ آخِرُهُمْ، أُغْلِقَ فَلَمْ يَدْخُلْ مِنْهُ أَحَدٌ) ( مسلم شريف دويم ټوک (۸۰۸) .**

ژباړه : دجنت په دروازو کې یوه دروازه ده چه هغې ته باب الریان وایې پدی دروازه به د قیامت په ورځ صرف روژه دار داخلیږي .

رسول الله صلی الله علیه وسلم د یوی خطبی په آخره برخه کې وفرمایل

**(۳) - (وهو شهر اوله رحمة و اوسطه مغفرة و آخره عتق من النار و من خفف عن مملوكه فيه غفرالله له و اعتقه من النار) شعب الايمان للبيهقی پنځم ټوک (۲۲۳) مخ).**

ژباړه :ددی مبارکې میاشتی اوله حصه رحمت ده دوهمه حصه یي مغفرت ده او آخري دریمه حصه یي د دوزخ څخه خلاصون دی ،ددینه پس یي وفرمایل کوم سړی چه په دی میاشت کې دخپل خادم یا مزدور په کار کې تخفیف او کمی وکړي الله تعالی به د هغه مغفرت وکړي او د دوزخ له اوره به آزادی ورکړي

**(۴) - (عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضى الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ أَفْطَرَ يَوْمًا مِنْ رَمَضَانَ فِي غَيْرِ رُخْصَةٍ رَخَّصَهَا اللَّهُ لَهُ لَمْ يَقْضِ عَنْهُ صِيَامُ الدَّهْرِ (سنن ابی داود دویم ټوک (۳۱۴) مخ).**

ژباړه :له حضرت ابو هريرة څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم و فرمایل : چا چې د رمضان د میاشتي یوه روژه پرته له کوم عذر لرلو ( سفر یا مرض ) ونه نیوله نو ټول عمر روژه نیول یې د هغه قضا نشي پوره کولای .

یعنی ټول عمر روژه نیول د یوې ورځی د رمضان په اندازه ثواب نشي پوره کولای چې ددې څخه د رمضان المبارک غوره والی او فضیلت څرګندیږي .

**(۵) – (عن ابن عباس رضى الله عنه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم عمرة فى رمضان تعدل حجة- أو حجة معي ( مسلم شريف دويم ټوک (۹۱۷).**

ژباړه : له حضرت ابن عباس رضی الله عنه نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم و فرمایل : په رمضان کې عمره د حج سره برابره ده او یا داسې ثواب لري لکه چې له ما سره یې یو ځای حج کړی وي

**(۶) - (عن عثمان سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول الصيام جنة من النار كجنة احدكم من القتال( سنن ابن ماجه لومړی ټوک (۵۵۸) مخ).**

ژباړه : حضرت عثمان رضی الله عنه وایي : له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه مې واوریدل چې فرمایل یې : روژه د اور څخه داسې سپر او ډال دی لکه چې سپر او ډال په جنګ کې ستاسو لپاره ساتونکي دي

**(۷) – (عن أبي هريرة، قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: «لكل شيء زكاة، وزكاة الجسد الصوم»** **(سنن ابن ماجه لومړی ټوک (۵۵۵) مخ).**

ژباړه : د هر شي د پاره زکات وي د بدن زکات روژه نیول .

**(۸) – (لخلوف فم الصائم اطيب عندالله من ريح المسک ( بخاری شریف لومړی ټوک (۵۵۰) مخ).**

ژباړه : د روژه لرونکی د خولې بوی دالله تعالی په نزد تر عطرو او مشکو غوره دی .

## د روژی فردي ګټې:

روژه دار د روژې په نیولو د لوږو تندو سره مخامخ اوعادت کیږي ،نو کله چه پرې د ژوند په اوږدو کې ناځاپي بې وسي او ستونزې راشي د هغوی په مقابل کې په پوره صبر او حوصلې سره مقاومت کوي او خپله حوصله نه بأیلي .

مګر ددې پرخلاف هغه څوک چه د روژې نیولو سره عادت نه وي او دلوږې او تندې د مشکلاتو سره مخامخ شي ژر صبر او حوصله د لاسه ورکوي او خپل ژوند بأیلي .

## د روژې اجتماعي ګټې :

شتمن او مالداره مسلمانان پخپله تل آسوده او سوکاله ژوند کوي نوکله چه دوی ته د روژې په نیولو سره د لوږې او تندې احساس وشي نو بیا ورته د بی وزلو او غریبانو مسلمانانو حالت ور په زړه کیږي . او سمدستي فکر کوي چې د بې وسو او بې وزلو مسلمانانو ټول ژوند په لوږه او بې وسی کې تیریږي ،ځکه يې پر هغوی زړه سوی پیدا کیږي او وربانديې يې د مهربانی او مرستی کولو ولولې په جوش راځي په نتیجه کې د خپل مال او شتمنيو ځنې څه حصه غریبانو او بې وزلو ته ورکوي .

بې وسه او بې وزله کسان د مالدارو په دې ډول خواخوږی او مرستي سره له هغوی څخه خوشحالیږي . په پای کې د بې وزلو او مالدارو تر منځ مينه او دوستي پيداکيږي او هر،یو دبل تر څنګ هوسا او ډاډه ژوند تیروي چه دا پخپله د ټولنې د نیکمرغی سبب ګرځي .

## د روژې صحي ګټې :

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایی : **(صوموا تصحوا ) جامع الاحادیث للسیوطي(۵) ټوک (۱۴۹) مخ).**
**(روژه ونیسئ تر څو صحتمند شئ )**
د روژې نيول انسان ته لاندنی ګټي رسوي .
۱- پوره یولس (۱۱ ) میاشتي چه معده په پرله پسې توګه خوړو او اوبو څخه ډکه وي نو ینه (ځیګر) هم مجبوریږي چه د صفرا د کڅوړې تیزابي مواد تل ترتله د خوړو هضمولو په وخت کې تیار او ور باندې مصرف کړي
خو د روژې په نیولو سره دا مصرف کمیږي (ياني په روژه کې په معده کې خواړه کم وي اوتیزابې هضم کونکې مواد ډيروي.نو په پوره ډول خوراک هضموي.
۲- د کال په یوه معلوم وخت کې (روژه ) کې لږ خوراک او څښاک د ناروغتیا د علاج لپاره ډیر غوره لاره ده .
۳- د ځيګر یوه خاصه ناروغي چه زيری يې بولي په روژه نيولو سره له منځه ځي ، ځکه چه دا ډول ناروغي زياتره د ينې د سټريا له کبله پيدا کيږي او د ينې زيات کار کولو په وخت کې له وينې څخه د صفرا مواد نه جلا کیږي .
۴- د روژې په میاشت کې روژتي ډیر خوراک او څکاک نه کوي، نوځکه يې اشتها هم ښه کیږي . دښه اشتها په صورت کې د خوړلو د هضمیدو نه وروسته د بدن د اړتیا وړ کیمیاوي مواد په ښه توګه بدن ته جذبیږي او روغتيا ته ګټه رسوي .

## روژه د تقوی سبب ده :

الله جل جلاله فرمایی.
**(يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِينَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ ) د بقرې سورت (۱۸۳) آیت )**
ژباړه : ای مؤمنانو! پر تاسي روژې فرض کړای شوې، څرنګه چې له تاسې نه په وړاندې خلکو فرض شوې وه. دي لپاره چې تاسوپرهیزګاره شی.)
په حدیث شریف کې راځي چې روژه له ګناهونو څخه مخ نیوی کوي، نو ستاسې نه چې څوک روژه ولري، له بد ویلو، ناوړه خبرو، چیغو نارو او جاهلانه کړنو څخه دې ځان وساتي. که څوک ورته ښکنځلې وکړي یا يې ورسره جګړه وکړه، ځواب دې نه ورکوي بلکه دوه ځله دې وو ایی: زه روژه یم.

په هغه ذات سوګند چې د محمد(صلی الله علیه وسلم ) نفس د هغه په قدرت کې دی، د روژه دار د خولې بوی، الله تعالی ته د مشکو تر بوی غوره دی.
رمضان د ژوندون د مسیر د ارزونې غوره فرصت دی چې باید پکې د خپل ژوند تګلوري ته له سره کتنه وکړو او ډاډه شو چې آیا په هماغه لوري روان یو چې الله جل جلاله راته ټاکلی اوکه د کعبې په ګمان ترکستان ته روان یو؟

## رمضان، د بدلون میاشت ده:

رمضان د بدلون میاشت ده. راځه د بدلون په هوډ له خپل رب سره شه تعلق جوړ کړو ، راځه خپل رب چې په ناوړه کړنو مو ناراضه کړی، له ځانه خوښ کړو او د هغو په څیر نه شو چې د الله په هیرولو سره یې نفسونه هیر شوي دي.
نو اوس تاسې څنګه؟ آیا رمضان ته کومه ځانګړې برنامه لرئ؟ آیا په ژوند کې د بدلون لپاره تیاریاست؟

## رمضان، د ارادو د ننداریې فرصت ده:

رمضان د ارادې او عزم د پوخوالي میاشت ده. هغه میاشت چې ناآشنا هوډونه زیږوي. دلته وږی او تږی هوډمن دی چې له سهاره تر ماښامه به نه څه خوري او نه څښي. سبحان الله! آیا هغه چې د الله په امر یې هر څه ته شا کړې، دومره وس نلري چې له ژوند څخه ناسمې کړنې لرې کړي؟ حتما چې لري یې. روژه د ناوړه عادتونو او حیواني شهوتونو له ولکې څخه د خلاصون میاشت ده. هغه میاشت چې مؤمن له امارة بالسوء نفس سره په مبارزه کې دا ثابتوي چې د نفس بنده نه دی، بلکې نفس د هغه تر واک لاندې دی. پدې میاشت کې مؤمن خپل پوخ عزم ننداریې ته ږدي. هو، هغه د روژې له پیله هوډ کړی چې لمنځونه په جماعت سره اداء کوي، غیبت نه کوي، دروغ نه وایي، سترګې او غوږونه له ناروا څخه ساتي، نه حرامو ته لاس ور وړي او نه په طاعت کې تنبلی کوي او که همت لوړ وو نو د الله تعالی په مرسته حتما همداسې کیږي، ځکه چې الله تعالی فرمايي: (هغوی چې زموږ په لار کې تکل کوي، موږ به هرو مرو خپله لار وروښیو.) (د عنکبوت سوره د ۶۹ آیت مفهوم).
تاسې همدا سږ کال دا وآزمایاست او بیا وګورئ چې څرنګه مو مخې ته د نیکمرغۍ دروازې پرانیستل کیږي. اې وروره چې تر اوسه دې د ریښتیني مؤمن په توګه د ایمان خوند ندی څکلی، اې ځوانه چې تر اوسه له ګناهونو څخه د نفس په راګرځولو نه یې برلاسی شوی.اې خورې چې د حجاب او اسلامي آدابو په پلي کولو کې پیره راغلې یې، اې پلاره چې لا دې له حرام مال څخه لاس ندی اخیستی، اې مورې چې د اولاد په روزنه کې دې تنبلي کړې ده، اې واکمنه چې د الله د اوامرو له پلي کولو غافل یې، اې دعوتګره چې د حق د پیغام په رسولو کې دې لټی کړې! پاڅه، پاڅه او د دې ایماني فرصت څخه په ګټې اخیستنې سره د خپلې ارادې پیاوړتیا وازمویه.

## څرنګه له رمضان څخه غوره ګټه واخلو؟

۱- باید د الله جل جلاله شکر ادا کړو چې تر دې رمضان پورې یې د ژوند فرصت راکړ.
۲. په خالص نیت سره د دې میاشتې د روژې نیولو هوډ ولرو.
۳. د کتابونو د مطالعې او کیسټو د اوریدلو له لارې د روژې د احکامو په اړه معلومات ترلاسه او روحي تیاری ورته ونیسو.
۴. د روژې له پیله په رښتیني توبې او پوره جدیت سره د تیرو ګناهونو د لمنځه وړلو تکل وکړو او هوډمن اوسو چې نور د ګناهونو لمن ونه نیسو.
۵. په جماعت سره د پنځه ګونو لمونځونو اداء کولو ته پاملرنه وکړو.

۶. په خپل ذهن کې د آخرت او مرګ د یاد روحیه ژوندۍ کړو
۷. له الله تعالی څخه پدې میاشت کې د لا زیات طاعت او عبادت توان وغواړو.
۸.له مناسب پلان سره سم،خپل او د کورنۍ وخت په نیکو کړنو ډک کړو.
۹. د دې میاشتې له برکتناکو شیبو څخه د دین د اړینو مسائلو په زده کړه کې ګټه واخلو او په ځان کې د مطالعې او زده کړې دود غښتلی کړو.
۱۰. د روژې په لوږې او تندې سره باید هغه خلک را یاد شی چې د خوړلو لپاره یوه مړۍ ډوډۍ نه لري او له هغو سره د مرستې لپاره ګام واخلو.
۱۱.د پیشمنې پرمهال دتهجد په لمانځه سره دنفس په روزنه کې هڅه وکړو
۱۲. د روژې ثواب خرابونکې کارونو څخه باید ځان وساتو: ډیرې روژتیان د روژې له ماتوونکو (خوراک، څښاک او جماع) څخه ډډه کوي خو هغه کارونو ته چې د روژې اجر له منځه وړي هیڅ پاملرنه نه کوي.
۱۳.د تراویح لمونځ په شوق او جزبې سره ادا کړو : رسول الله فرمایي: څوک چې د رمضان په شپو کې له ایمان او اخلاص سره لمونځ وکړي. تیر ګناهونه یې ببښل کیږي. (متفق علیه).
۱۴. په رمضان کې صدقه ډیر زیات اجر لري، پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایي: تر ټولو ښه صدقه هغه ده چې په رمضان کې ورکړل شي. (سنن ترمذی)
۱۵. سخاوت: په روایت کې راځي چې په رمضان کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم سخاوت له روان نسیم باد څخه هم زیات وو.
**(عن ابْنِ عباس قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ أَجْوَدَ النَّاسِ وَكَانَ أَجْوَدُ (أَجْوَدَ) مَا يَكُونُ فِي رَمَضَانَ حِينَ يَلْقَاهُ جِبْرِيلُ وَكَانَ يَلْقَاهُ فِي كُلِّ لَيْلَةٍ مِنْ رَمَضَانَ فَيُدَارِسُه الْقُرْآنَ فَلَرَسُولُ اللهِ أَجْوَدُ بِالْخَيْرِ مِنَ الرِّيحِ الْمُرْسَلَةِ) بخارى شريف )(۱) ټوک (۵) مخ).**

۱۶. د قرآن کریم تلاوت: رمضان د قرآن میاشت ده ځکه نو باید پکې د قرآن د تلاوت او زده کړې زیاته هڅه وکړو. اړینه ده چې قرآن په پوره تدبر سره تلاوت کړو او هڅه وکړو چې په معنی او مفهوم یې پوه شو.
۱۶. رمضان د ذکر، دعاء او استغفار ښه وخت دی چې ترې ګټه واخلو.
۱۷. عمره: رسول الله فرمایي: په رمضان کې عمره کول دحج په برابر ده .
**(عَنْ هَرِمِ بْنِ خَنْبَشٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عُمْرَةٌ فِي رَمَضَانَ تَعْدِلُ حَجَّةً) سنن ابن ماجه (۹ټوک (۷۹) مخ).**
۱۸. اعتکاف، په ځانګړې توګه په وروستۍ لسیزه کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم سنت او د نفس د روزنې ښه فرصت دی.
۱۹. د رمضان په وروستۍ لسیزه کې د قدر شپې د تر لاسه کولو په نیت چې تر زرو میاشتو غوره ده، تر ډیره عبادت او طاعت ته ملا وتړو.
۲۰.روژتیانو ته په روژه ماتي ورکولو سره،وعده شوی ثواب لاس ته راوړو.
۲۱. په پوره نشاط سره ورځنیو چارو ته حاضر شو او د روژې معنویت په بې حوصلګۍ او له نورو سره په جنجالونو زیانمن نه کړو.
۲۲.له بې ګټې او عبث مجلسونو څخه ځان وساتو او خپل ارزښتمن وخت په قرآني درسونو او نورو دیني مجالسو کې په ګډون سره ولګوو.
۲۳. د فطر د صدقې ورکړه: دا چې همدغه صدقه د اختر له لمانځه څخه وړاندې بې وزلو ته ورسیږي نو له اختر څخه څو ورځې وړاندې یې هم ورکول جائز دي څو پرې خپلې اړتیاوې پوره کړي. د

کوچني اختر په لمانځه کې په ګډون سره د خير او برکت دا موسم پای ته ورسوو له رمضان وروسته له الله سره د تل لپاره دعبادت ژمنه وکړو.

## د روژې آداب:

(۱) - په افطار کې بيړه کول: رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: تر هغه چې خلک په روژه ماتي کې بيړه کوي په خير کې دي. (متفق عليه)
(۲) - روژه په خرما او اوبو سره ماتول.
(۳) - د افطار وروسته دعاء **(ذَهَبَ الظَّمَأُ وَابْتَلَّتِ الْعُرُوقُ وَثَبَتَ الأَجْرُ إِنْ شَاءَ اللَّهُ)**
(۴) - د شپې په وروستی برخه کې پیشلمی کول
(۵) - ډير خوراک نکول چې د ناروغيو مور او د روژې د حکمت منافي ده.
(۶) - د قرآن تلاوت ته ځانګړې پاملرنه: صحابه به د قرآن له تلاوت څخه ډير متأثر کيدل او زړونه به يې ورسره نرميدل. په ځانګړې توګه په رمضان کې به يې د قرآن زيات تلاوت کاوه او په هغه کې به يې زيات فکر کاوه او هغه به يې زيات زده کولو.
(۷) - عبادت ته ځان وزګارول: روايت دی چې کله به خلک کورونو ته لاړل نو عبدالله ابن عمر رضي الله عنه به مسجد ته لاړ او تر سهاره به يې لمونځ کولو.
(۸) - سخاوت او انفاق: روايت دی چې عبدالله ابن عمر رضی الله عنه له مسکينانو پرته روژه نه ماتوله. که به کوم سوالګر ورغی نو خپله ډوډۍ به يې هغه ته ورکوله او چې په کور کې به يې د خوړلو لپاره نور څه ونه موندل نو د دويمې ورځې لپاره به بې همداسې په لوږه روژه نيوله.
(۹) - له زيات خوراک څخه ډډه: پدې باور چې که څوک غواړي په روژه کې له لمانځه څخه خوند واخلي نو لږه ډوډۍ دې خوري، ځکه لوږه زړه نرموي، نفس کمزوری کوي او غوسه له منځه وړي.
(۱۰) - په وروستۍ لسيزه کې زيات زيارايستل: په حديث شريف کې دي چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم حرص به د رمضان په وروستۍ لسيزه کې څو برابره زيات شو. ابن جريررحمه الله فرمايي: ډيری سلفو به د شپې غسل کاوه، عطر به يې لګول، ښې جامې به يې په تن کړې او په عبادت به لګيا شول. ځکه پدې باور ول چې د قدر شپه په همدې شپوکې ده.
(۱۱) - قيام الليل او اوږدې تراويح.
(۱۲) - د ژبې ساتل او له زياتو خبرو ډډه کول.

## رمضان د قرآن، جهاد، تعاون، تغير او تقوا مياشت ده:

رمضان قرآن کريم ته د ورګرځيدو مياشت ده، راځئ د هغه د پوهاوي تکل وکړو، احکام يې په فردي او کورني ژوند کې پلي کړو، خپل ملت ته يې پيغام ورسوو او د تنفيذ په لاره کې يې لاسونه سره ورکړو. رمضان د جهاد مياشت ده، راځئ د ټولو مفاسدو پر وړاندې د مبارزه وکړو. رمضان د همکارۍ مياشت ده، راځئ اړو انسانانو ته د مينې لاس ور اوږد کړو، رمضان ځان ته د راګرځيدلو مياشت ده، راځئ د الله تعالی د خوښې وړ او نجات ورکونکي بدلون په اړه سوچ وکړو. بالاخره رمضان د عاداتو له تنګې دايرې څخه د الله تعالی د عبادت پراخې نړۍ ته د ګام اخيستنې مياشت ده چې د عبادت ميوه هم تقوا ده، نو څومره به ښه وي چې د تقوا ترسيوري او د ايمان په رڼا کې خپل ژوند تجربه کړو.

## پشلمی يا سحري:

**(۱) – (قال النبي صلى الله عليه وسلم: (تسحروا، فإن في السحور بركة (بخاری شريف لومړی ټوک(۵۵۶) مخ).**
نبی کريم صلی الله عليه وسلم فرمايي : پشلمی کوئ ځکه په پشلمي کې برکت وي .

**(۲) –(عن أبي سعيد الخدري رضى الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: «السحور أكله بركة، فلا تدعوه، ولو أن يجرع أحدكم جرعة من ماء، فإن الله عز وجل وملائكته يصلون على المتسحرين» (مسند احمد (۱۷) ټوک (۱۵۰) مخ).**
ژباړه :په پشلمي کې برکت دی هغه هیڅ کله مه پریږدئ که بل څه نه وي نو دغه وخت د ابو یو غړپ وڅښئ ځکه چې په پشلمي کوونکو باندې د الله رحم نازلیږي او فرښتې د دوی د پاره د مغفرت دعاوی کوي .
**(۳) – (عن عمرو بن العاص رضى الله عنه أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: «فصل ما بين صيامنا وصيام أهل الكتاب، أكلة السحر» (مسلم شريف (۲) ټوک (۷۷۰) مخ).**
ژباړه : یعنی زموږ او داهل کتاب د روژې په منځ کې فرق پشلمی دی

## په روژه ماتی کې بیړه او په پشلمي کې تأخیر کول :

**(۱) – (عن أَبي هُريرةَ رضى الله عنه قَالَ:- قَالَ رَسُولُ الله صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "قَالَ الله عزَّ وجلَّ: أَحبُّ عِبادِي إِليَّ أَعجَلُهُم فِطراً (ترمذي شريف (۲) ټوک (۷۴) مخ).**
له ابی هریرة (رض) نه روایت دی چې رَسُولُ الله صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي : د الله تعالی ارشاد دی چې پخپلو بنده ګانو کې ماته هغه بنده خوښ دی چې په روژه ماتي کې بیړه کوي . یعنې چې کله ماښام شي نو بیا وخت نه تیروي .
**(۲) – (عن سهل بنِ سَعدٍ رضى الله عنه أَنَّ رسولَ الله - صلى الله عليه وسلم - قال:لا يزالُ النَّاسُ بِخَيرٍ ما عجلوا الفطر. (بخارى شريف لومړی ټوک (۵۷۲) مخ).**
ژباړه : څو پورې چې زما امت په روژه ماتي کې بیړه کوي نو هغوی به په ښه حال کې وي .
**(۳ ) – (إِذَا أَفطَرَ أَحَدُكَم فَلْيُفطِرْ عَلَى تمرٍ فإِنْ لَمْ يَجِدْ فَلْيُفطِرْ عَلَى ماءٍ فَإِنَّهُ طَهُورٌ ) ترمذي شريف دويم ټوک (۷۲) مخ).**
په تاسې کې چې دچا روژه وي نو هغه دي روژه په خرما او کجوره ماته کړي که خرما نه وي نو بیا دي په اوبو ماته کړي ځکه چې الله تعالی اوبه (طهور) پاکی ګرځولی دي .

## روژه دار ته د روژه ماتي برابرولو ثواب :

**(۱) – (من فطر صآئماً او جهز غازياً فله مثل اجره ( سنن الكبرى للبهيقى څلورم ټوک (۴۰۴)مخ).**
کوم کس چې روژه دار ته روژه ماتي د پاره څه ورکړل او یا چا مجاهد ته د جهاد د پاره وسله یا نور تجهیزات ورکړل نو هغه ته به د روژه دار یا مجاهد په مثل ثواب وي .
**(۲) – (عن أبي هريرة رضى الله عنه قال: قال رسول الله - صلى الله عليه وسلم -: "ثلاثة لا ترد دعوتهم: الإمام العادل، والصائم حتى يفطر، ودعوة المظلوم (سنن ابن ماجه دويم ټوک (۶۳۶) مخ).** د دريو کسانو دعا نه ردیږي – د عادل حاکم ، روژه دار د روژه ماتي تر وخت پورې او مظلوم .

## په روژه کي له حرامو کارو بیکاره خبرو ځان ساتل:

پدی اړه دغسې حدیث شریف راغلی:
**(عن أبي هريرة رضي الله عنه، قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: «من لم يدع قول الزور والعمل به، فليس لله حاجة في أن يدع طعامه وشرابه) (بخاري شريف دريم ټوک (۲۶) مخ ).**
ژباړه : کوم سړی چه بد کارونه فضول خبری پرینږدي نو الله تعالی ته دده د خوړلو اوڅښلو پریښودو ته څه ضرورت نشته .

## دروژی مکروهات :

۱- بد اخلاقي کول ،غیبت کول ، جګړه کول ،فضول خبرې او داسې نور ناروا کړنې .
۲- د لوږی تندی په وجه وارخطایي او ناآرامي ظاهرول .
۳- څه شی په خوله کې نیول یا جویل خوراکی شی وي او که نه .
۴- د خوراکی شی په ژبه څکل ، خو د ښځې او خادم لپاره چه خاوند یا مالک یې بدخویه وي بیا د خاوند یا مالک دتندخویی د دفعی په وجه چه بد رد ونه وایي باک نلري چه د خوراکی شی مالګه وڅکي .
۵- په خوله یا پوزه اوبو تیرولو کې دومره مبالغه چه اوبه تر حلق یا ستونی پورې ورسیږي.
۶- د غاښو مینځلو کریم وغیره سره غاښونه پاکول .
۷- په خوله کې ډیری لاړی جمع کول او بیایی تیرول .
۸- که دشهوت ویره وي خپله بی بی ښکلول یا ورتر غاړه کیدل روژه مکروه کوي خو که د شهوت ویره نه وي باک نلری .
۹ – بغیر د ضرورته مور لره په خوله کې د څه شي جویل او بیا ماشوم ته د هغه ورکول .
پورته ټولو صورتونو کې روژه مکروه کیږی فاسیدیږي نه ولی ثواب یی کمیږي .

## دروژی فاسدوونکي :

په روژه کې له دریو شیانو څخه د ځان ساتل فرض دي .
۱- له څه خوړلونه.
۲- له څه څښلونه.
۳- له کوروالې نه.
پورته دریو فرضونو پر خلاف عمل سره روژه فاسیدیږي .
خو د روژی فاسدوونکی څیزونه دخپل نوعیت له مخې پردوه ډوله دي اول هغه چه یوازی قضایي وربانديې واجبیږي او بل هغه چه قضا او کفاره دواړه وربانديې واجبیږي .

## هغه کړني چه دهغه پرکولودروژی صرف قضاواجبه ده.

۱- یو څوک د روژی پشلمی وکړي او دا یې خیال وي چه تر اوسه وخت شته خوراک څښاک وکړي خو ورسته ورته معلومه شوه چه سبا ختلی ددغه روژی صرف قضا واجبه ده .
۲- چا د لمرلویدو نه مخکې داسې فکر وکړ چې لمر لویدلی دی روژه یې ماته کړه خو ورسته پوه شو چه ماښام لا ندی شوی نو قضایی روژه وربانديې واجبه ده .
۲- چا په روژه دار باندی په زور خوراک وکړ .
۳- د رمضان نه علاوه بل څه نفل یا واجب روژه قصداً ماتول .
۴- په روژه کې چا په قصد سره په ډکه خوله کانګی وکړی یا د خولې په غرغره کې یې بې احتیاطي وکړه او اوبه له حلقه تیر شي قضا پری واجب ده .
۵- که چا داسې شی چه غذا نه وي لکه د اوسپنی ټوټه، ګانی کاغذ یا نور وخوړل چه نه د غذا او نه دوا په ډول وي صرف قضا پری واجب ده نه کفاره .
۶– که چا په هیره څه وخوړل نو بیا یې فکر وکړ چه روژه خو ماته شوه نو څه یې نور هم وخوړل نو قضا یې پرې لازمه ده.
۷- په غاښونو کې د داسې خوراکی څیز بندیدل چه د نخود دانې برابر یا له هغه نه لوی وي تر حلق تیر شي .

۸- د جماع او وحشی عمل  لواطت نه پرته بل کوم داسې وحشي شیطاني جنسي فعل يې وکړ چه انزال ورسره وشوه  .
۹- غاښونه وینی شي او وینی پر لاړو زیاتی وي بیا له ستونی څخه تیري شي .
په پورته ټولو صورتونو کي روژه ماتيږي چې صرف قضا  روژه به بيا نيسي کفاره وربانديې نه لازميږي .

**هغه صورتونه چې قضاوکفاره دواړه پرې واجب دی**
۱- قصداً څه خوړل ،څښل او له خپلې ښځی سره کوروالی کول.

**د روژی کفاره :**
۱ – غلام ازادول
۲ – دغلام نه شتون په صورت کې دیوی روژې په بدل کې دوی میاشتې مسلسل روژه نیول فرض دي که په منځ کې یوه روژه هم قضاء شي له سره به روژه نیسي
۳ – د روژی دنه نیولو د توان په صورت کې بیا شپیتو مسکینانو ته به دوه وخته په مړه ګېډه ډوډی ورکوي .
**دفطردصدقې معنی :**
د فطرلغوی معنی ده روژه ماتول او د فطرصدقې معنی ده د روژي ماتولو صدقه او په اصطلاح کې د فطر له صدقی نه مراد هغه واجبه صدقه ده چې د روژی د مبارکې میاشتې په ختمیدو او د روژی په پایته رسیدو سره ورکول کيږي .

**دفطر دصدقی حکمت او ګټی :**
اول دا چه کله مسلمان د رمضان روژه ونیسي نو دده په زړه کې خوشحالی او د الله جل جلاله د شکر جذبه پیداشي چه شکر خدایه ستا په فضل مې د رمضان روژه ونیوله  نو دغه صدقه فطر به یوه شکرانه شي د غریبو اوبې وسو به امداد وربانديې وشي  .
دوهم دا چه که په روژه کې له سړی څخه څه خطاګاني شوی وي نو صدقه فطر به د هغه کفاره شي .
دحضرت عباس رضی الله عنه نه روایت دی  چه( رسول الله صلي الله علیه وسلم  دفطرصدقه ددی لپاره مقرره کړی ده چه هغه روژه نیوونکی د عبثو او بی ګټی کارونو او د بې حیا لغزشونو څخه پاک کړي او د غريبو بې وسو د خوراک څښاک څه چاره وشي ، نو څوک چه د اختر د لمانځه نه مخکې سرسایه ورکړي هغه به د قبلیدو عزت تر لاسه کړي او څوک يې چې د اختر تر لمانځه ورسته ورکړی هغه به د یوه عام خیرات اوصدقې په شان وي ) سنن ابوداود، وابن ماجه )

**دفطرصدقې حکم :**
د فطر صدقه په هر هغه مسلمان سړی ،ښځه  او نابالغ باندې واجب ده چې د خپلو اصلی ضرورتونو علاوه د دومره مال لرونکی وی چه د زکات نصاب ته ورسيږي برابره ده چې پردغه مال باندی کال تير شوی وي او که نه .
**د فطرصدقی داداکیدو وخت :**

د صدقه فطر د ادا کولو وخت خو د اختر د لمانځه نه مخکی دی لیکن غوره داده چه د اختر څخه دوه ځلور ورځې مخکې اداء شي د پاره ددی چه مستحقین په دې سره خپل ضروریات پوره کړي چې د اختر لپاره به دوی هم څه برابر کړی وي . خو دا ضرور ده چه د اختر تر لمانځه مخکې ورکړ شي .

**صدقه فطر دکومو خلکو د طرف نه ورکول واجب دي :**

په کومو کسانو چه صدقه فطر واجب ده هغه به د خپل ځان او خپل نابالغه اولاد صدقه فطر ورکوي .
په مور باندې د اولاد صدقه فطر لازمه نده ، همدارنګه دښځې او بالغ صدقه فطر پر سړی لازمه نده که ښځه وس ولری که خپله صدقه پخپله ورکړی ثواب لري او که وس ونه لری نو بیا به دهغه خاوند دخپلی بی بی صدقه فطر ورکوي .

**دفطردصدقی اندازه :**

د صدقه فطر اندازه نیم صاع غنم او یو صاع وربشی یا ممیز دي
صاع د رسول الله صلي الله علیه وسلم په دور کې د پیمانې یو لوښی ؤ ، وروسته چې دغه پیمانه په وزن اندازه شوي ده د فقهاؤ تر منځ یې په مقدار کې څه اختلاف شته .
علماوود ډیرو پلټنو او تحقیق وروسته دا ثابته کړي چې دنیم صاع
مقدار له ۱,٦٦٦ کلو ګرام وزن سره سمون خوري .د افغانستان علماؤ له پخوا وختو څخه په مرکزی مناطقو کې د فطر اندازه خورد کم یو چارک غنم ټاکلی دی چې پدی مناطقو کې رواجی من څلور چارکه او یو چارک څلور پاوه او یو پاو بیا څلور خورده او همدا من له ۷ کلوګرام سره سمون خوری چې پدې حساب د فطر د صدقی اندازه ۱,٦٥٠کلو ګرام غنم کیږي .
چې بیا دغه مقدار د هری منطقی د غنمو په نرخ کې ور ضربیږي.
مثلاً که د غنمو د کلوګرام نرخ ۲٥ افغانی وي نو د سرسایې اندازه به ٤۲,٥ افغانی وي.

**دفطر صدقه چا ته ورکړل شي :**

د زکات د مصرف چې کوم ځایونه دی په همغو ځایونو کې صدقه فطر هم ورکول کیږي .
دزکات د مستحقینو په اړه په قرآنکریم کې داسی حکم راغلی .
**(إِنَّمَا الصَّدَقَاتُ لِلْفُقَرَاء وَالْمَسَاكِينِ وَالْعَامِلِينَ عَلَيْهَا وَالْمُؤَلَّفَةِ قُلُوبُهُمْ وَفِي الرِّقَابِ وَالْغَارِمِينَ وَفِي سَبِيلِ اللهِ وَابْنِ السَّبِيلِ فَرِيضَةً مِّنَ اللهِ وَاللهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ) ( التوبه ۶۰ )**
فقراء نه مراد هغه څوک دي،
چې بالکل تش لاس نه وي خو داسې وي چې د بال بچ ضرورتونه ئی نه پوره کیږي
او نهٔ ورسره دومره مال یا دولت وي چې پخپله پری زکات فرض وي.
۲- مساکین : هغه تش لاسی خلک دي چه د نفقی لپاره څه نه لري که څه هم کسب او کار ته ډیر لاس اچوي خو بیا هم څه ورباندی نه کیږي ، یا معیوب شوی وي یا ناروغه وي چه د کسب ، کار توان یی له لاسه ورکړی وي .
۳- عاملین : دزکات ټولوونکی کسان دا خلک که څه هم مالداره وي بیا هم د دوی د زحمت او د وخت لګیدو له وجی زکات ورکول کیدای شي ..
۴- غلامان ازادول
۵ - غارمین: کوم خلک چه داسې پوروړی یا په څه وجه تاوانی شوي وي چه دقرض د اداء کولو توان ونه لري دا ډله هم د زکات له مستحقینو څخه ده .

۶- فی سبیل الله : هغه کسان چه دخدای تعالی د دین د لوړوالی لپاره جهاد کوي.
۷- ابن سبیل: کوم مسافرچه د سفر پر وخت محتاج یا له څه مشکل سره مخ شوی وي که څه هم په خپل کور کی مالدار وي د زکات مستحق دی .
بغیر له دغو اتو ځایونو نور په هیڅ ځای کې د زکات او صدقه فطر ورکول جواز نه لري که څوک یې بغیر له دغو ځایونو څخه مصرف کړي نه ادا کیږي .
د امامت په اجرت کې د صدقه فطر ورکول حرام دي ولو که امام د نصاب مالک هم نه وي مګر بغیر د اجرت نه که امام مستحق وي د صدقه فطر ورکول جایز دي

## د متبرکه باعظمته شپې (لیلة القدر) لنډه یادونه :

دا هغه متبرکه او با غظمته شپه ده چې په قرآن او احادیثو کې ورته لیلة القدر وایي په قرآنکریم کې یو مکمل سورة ددی شپې په فضیلت کې نازل شوی دی په احادیثو کې هم ددی شپې ډیر فضیلت بیان شوی دی .
د لیلة القدر معنی : لیلة په معنی د شپې، او قدر په معنی د اندازې لګولو،عزت اوقدر سره ده، کوم څوک چې په دې شپه کې د الله تعالی په ذکر او عبادت کې مشغول وي د الله تعالی په دربار کې هغه کس د قدراوعزت څښتن ګرځي او فرښتې دده د پاره دعا کوي .
په قرآنکریم کې راغلی دی چې دا شپه تر زرو میاشتو نه بهتره ده .
**(إِنَّا أَنزَلْنَاهُ فِي لَيْلَةِ الْقَدْرِ (۱) وَمَا أَدْرَاكَ مَا لَيْلَةُ الْقَدْرِ (۲) لَيْلَةُ الْقَدْرِ خَيْرٌ مِّنْ أَلْفِ شَهْرٍ (۳) تَنَزَّلُ الْمَلَائِكَةُ وَالرُّوحُ فِيهَا بِإِذْنِ رَبِّهِم مِّن كُلِّ أَمْرٍ (۴) سَلَامٌ هِيَ حَتَّى مَطْلَعِ الْفَجْرِ ) ( القدر)**
ژباړه : یقیناً مونږ نازل کړ دغه (قرآن ) په شپه د قدر کې ، اوآیا ته پوهیږي چې د قدر شپه څه ده ؟ (د عزت او شرافت له مخې ) ، د قدر شپه غوره له زرو میاشتو څخه (په دې شپه کې نیکي کول تر زرو میاشتو نیکي کولو غوره دي ) ، نازلیږي په دغه شپه کې ملائکې او جبرئیل علیه السلام په حکم د رب د هغوی د پاره د هر کار امان او سلامتیا ده په دغه شپه (له هر آفته ) ، دغه شپه د صبا راختلو تر وخته پورې ده .
د پورته سورة له بیان څخه څو خبرې معلومیږي :
۱- په دې شپه کې د قرآن نازلیدل شروع شوی دي .
۲- دا شپه د زرو میاشتو نه غوره ده .
۳- پدې شپه کې فرښتې د الله تعالی د احکامو سره نازلیږي .
۴- دا شپه سراسر سلامتي ،خیر او برکت دی .
۵- د صبا ختلو سره سم ددی شپې وخت ختمیږي .
په احادیثو کې هم ددی شپې ډیر فضیلت ذکر شوی دی :
**(عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضی الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم: «مَنْ يَقُمْ لَيْلَةَ الْقَدْرِ إِيمَانًا وَاحْتِسَابًا غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ) (بخاری شریف لومړی ټوک (۱۶) مخ).**
له ابو هریرة رضی الله عنه نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: چا چې د لیلة القدر شپه د ثواب په نیت رڼا کړه ( یعنی دا شپه یې په ذکر او عبادت تیره کړه ) ټول مخکینې ګناهونه به ورته عفوه شي .

## د لیلة القدر د شپې تعیین :

له احاديثو څخه معلوميږي چې د رمضان المبارک په اخري لسيزې طاقو شپو کې يوه شپه ده . داچې دا شپه واضح نه ده تعيين شوی حکمت دادی چې د رمضان المبارک په دې ټولو ورستی لسيزه کې د ذکر او عبادت زيات اهتمام وشي .

**(عن عائشة رضي الله عنها: أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: (تحروا ليلة القدر في الوتر، من العشر الأواخر من رمضان) (بخاري دريم ټوک (۱۱۵) مخ).**

له عائشة رضي الله عنها نه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل : ليلة القدر د رمضان په اخري لسو طاقو شپو کې پلټئ .

په طاقو شپو کې بيا زيات احتمال د اوويشتمې شپې دی :

**(عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهمَا أَنَّ رِجَالاً مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم أُرُوا لَيْلَةَ الْقَدْرِ فِي الْمَنَامِ فِي السَّبْعِ الأَوَاخِرِ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم: «أَرَى رُؤْيَاكُمْ قَدْ تَوَاطَأَتْ فِي السَّبْعِ الأَوَاخِرِ فَمَنْ كَانَ مُتَحَرِّيهَا فَلْيَتَحَرَّهَا فِي السَّبْعِ الأَوَاخِرِ) (بخارى شريف دريم ټوک (۴۲)مخ).**

له ابن عمر رضى الله عنهما روايت دى چې د نبى کريم صلى الله عليه وسلم څو تنو صحابه کرامو خوب وليد چې ليلة القدر د رمضان په اخري شپو کې اومه شپه ده ( اوويشتمه شپه ) رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل : ( وينم چې ستاسې خوبونه د ليلة القدر په باره چې د رمضان په آخري اوو شپوکی وي يو له بله موافق دي ) پس څوک چې د ليلة القدر د پيدا کولو په تلاش کې وي هغه د آخري لسيزې په اوو شپوکی ولټوي .

## د ليلة القدر ځينې علائم :

په حديث شريف کې چې جابر بن عبدالله رضى الله تعالى عنه روايت کړي د شب قدر ځني نښاني بيان شوی دي

لکه : د قدر شپه معتدله وي نه به يخه وي او نه ګرمه ، دغه شپه به رڼا او سپينه وي داسې چې ته وايې د پنځلسم سپوږمۍ ځليږي ، په دغه شپه به شيطان د باندې نشي وتلای نو په اسمان کې به د ستورو رڼاوې او بله نښه يې داده چې کله د قدر د شپې په سبا لمر وخيږي له ځانه سره به ډيري وړانګی نه لري .

ګرانو! که مو کور ته د کوم پاچا هيئت در روان وي او د تاسې کارونه ګوري د آينده په اړه ستاسې د پاره څه اجرا کول غواړي نو تاسې به څومره تياری ونيسئ په دغه شپه کې الهي هيئت نازليږي د ستاسې د اعمالو څخه ليدنه کوي او د آينده کال د پاره د مهمو بدلونو فيصلې کوي نو پوره تياری پکار دی .

## د اختر د شپې فضيلت

**(۱) - (عن ابي امامة رضي الله عنه عن النبي صلى الله عليه وسلم قال: من قام ليلتى العيدين محتسبا لله لم يمت قلبه يوم تموت القلوب**

**( سنن ابن ماجه) لومړی ټوک (۵۵۷) مخ).**

ترجمه: د حضرت ابو امامة رضي الله عنه څخه روايت دئ چې نبي کريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل چې: کوم سړی د دوو اخترو (کوچني اختر او لوی اختر) د شپو د ثواب يقين درلودی په عبادت کې يې تيري کړې نو د هغه زړه نه مړ کيږي په هغه ورځ چې د نورو خلګو زړونه مړه کيږي.

تشريح :د کوچني اختر او لوی اختر د شپې د رونولو  مطلب دا دئ چي دغه شپې د الله  جل جلاله  په عبادت کي تيري کړي او په ذکر او تسبيح، صله رحمي، د نيکانو خلکو په صحبت او ناسته کي  دا وخت تير کړي، د خپل عيال سره د محبت او ګرانښت سلوك وکړي، د قريبانو او خپلوانو سره ښه سلوك وکړي دا ټول د خير کارونه دي وکړي او په عبادت کي دي دغه شپې تيري کړي .
او دا خبره چي (په دغو شپو کي د عبادت کوونکو زړه نه مري) د دې مطلب دا دئ چي د قيامت په سخته ورځ چه هر طرف ته به بيره او خوف وي خلک به بې حواسه وي او نشه غوندي به وي او حال دا چي نشه به بالکل نه وي مګر د الله پاك عذاب داسي سخت دئ چي د خلګو به دا حالت وي مګر الله تعالی به دغه بنده ته ډېر آرام ژوند ورکړي د بيري او خوف څخه به يې ليري وساتې، الله تعالی دي موږ ته هم دغه نعمت را په نصيب کړی
نوځکه د لوی اختر شپه ډېره مبارکه ده د هغه قدر کول په کار دي او د هغه قدرداني دا ده چي دا شپه د خدای پاك په ذکر، درودشريف او په نورو عبادتونو کي تيرول په کار دي که ګرده شپه نه سي ويښيدلای نو په آساني سره چه څومره ويښيدلای سي عبادت وکړي لږ تر لږه د ماخستن او سهار لمونځ په تکبير اولی په جماعت سره ادا کړي په مابين کي چه څومره وخت ذکر او عبادت کولای شي ودي کړي او بيا وروسته بيده سي پر دغه باندي هم اميد دئ چي الله تعالی مو له ثواب څخه محروم نکړي

**(۲) - (عن معاذ بن جبل رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله عليه وسلم من أحيا الليالي الخمس وجبت له الجنة ليلة التروية و ليلة عرفة و ليلة النحر و ليلة الفطر و ليلة النصف من شعبان ( مرقاة المصابيح شرح مشكاة المصابيح څلورم ټوک پانه۳۴(۳۴۲) مخ).**

ترجمه : د حضرت معاذ بن جبل رضي الله عنه  څخه روايت دئ چي نبي کريم  صلی الله عليه وسلم  وفرمايل: کوم سړی چي (د ذکر او عبادت په ذريعه) پنځه شپې ژوندی کړي (ويښ پاته سي) د هغه له پاره جنت واجب سو هغه پنځه شپې دغه دي، د ذو الحجې د اتمي ورځي شپه، د عرفې شپه، د لوی اختر شپه، د کوچنی اختر شپه او د شعبان د پنځلسم (برات) شپه .
تشريح :داسي نو د ذو الحجې د اولو لسو ورځو شپې ټولی مبارکي او فضيلت لرونکي دي.دا ټولي شپې دومره غتي شپې دي چه خپله الله تعالی په سورة الفجر کي په دغو شپو قسم اخيستی دئ، بيا نو په دې ګردو شپو کي د ذو الحجې داتم، نهم، او لسم تاريخ شپې مهمي او فضيلت  والا دي. د دغو شپو يو خاص فضيلت دا ښودل شوی دئ چه کوم سړی کوښښ وکړي چي دا شپې د خدای تعالی په عبادت کي رونې کړي نو د داسي سړي د کوښښ او محنت په بدله کي الله تعالی صرف جنت ورکوي د ټول کال په سوونو شپو کي صرف په دغو پنځو شپو کي ويښيدل او عبادت کول کوم ګران کار نه دئ، د دنيا د معمولي  فايدې له پاره موږ په شپو شپو ويښ يو لکه چوکيدار چه د يو څو پيسو په خاطر ټوله شپه ويښ وي
نو آيا د آخرت د سختي ورځي څخه د ژغورلو، د پاك ژوند د حاصلولو او جنت ته د رسيدلو له پاره موږ ټوله شپه نه سو ويښيدلای او عبادت نه سو کولای؟ خامخا ئي کولای شو نو ملا وتړي د نفس او شيطان مقابله وکړئ او دغه قيمتي شپې مه بربادوئ بلکه په ذکر، تسبيح، عبادت او  نور د خير  کارونو کي  چه څومره کولای شي دغه مبارکي شپې رونې کړئ .

## د اعتکاف تعريف :

اعتکاف په لغت کې په کوم ځای کې بنديدلو او يا کوم مقام کې دريدلو ته وايي ، او دشريعت په اصطلاح کې په جومات يا کور کې د اطاعت او عبادت په قصد سره پاتې کيدلو ته اعتکاف وايي.

## د اعتکاف حکم :

کوم اعتکاف چې د رمضان المبارک په آخري لسو ورځو کې تر سره کیږي حکم یې سنت مؤکده کفایه دی چې خپله رسول الله صلی الله علیه وسلم د ژوند تر ورستي وخته پورې کړي دی او صحابه کرامو به هم ورسره ادا کولو .

**(عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا زَوْجِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم : أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم كَانَ يَعْتَكِفُ الْعَشْرَ الأَوَاخِرَ مِنْ رَمَضَانَ حَتَّى تَوَفَّاهُ اللَّهُ، ثُمَّ اعْتَكَفَ أَزْوَاجُهُ مِنْ بَعْدِهِ) بخاری شریف دریم ټوک (۴۷) مخ).**

ژباړه : عایشه رضي الله عنهادرسول الله صلی الله علیه وسلم مبارکه بی بی وایي : رسول الله صلی الله علیه وسلم د مرګ تر وخته د رمضان په آخرو لسو وروځو کې په اعتکاف کې کیناستلو-وروسته له هغې دده مبارکی بیبیانی هم په اعتکاف کې کیناستلی .

که په کوم کلي کې بالکل اعتکاف ونه شي نو د کلي ټول خلک ګنهکاریږي .

د اطرافو په ځنو سیمو کې دغه سنت بالکل ترک شوي دي چه د هغه را ژوندي کول سخت ضرور دي .

## د اعتکاف شرطونه :

۱- له جنابت ،حیض او نفاس څخه پاکوالی .

۲- د اعتکاف نیت کول

۳- د سړو د پاره په جومات کې او دښځو د پاره په کور کې د لسو ورځو د پاره حصاریدل .

د رمضان نه علاوه د نفل اعتکاف اجازت هم شته د هغې د پاره روژه نیول ضرور نه دي ، البته د واجب اعتکاف لپاره روژه شرط ده ، واجب اعتکاف هغه دی چې کوم چا په خپل ځان نذر منلی وي

## د ښځو اعتکاف :

د امام ابوحنیفه رحمه الله په نزد لکه څنګه چې د ښځو د پاره په کور کې لمونځ کول غوره دی همداسې د ښځو د پاره په کور کې اعتکاف غوره دی .

د کور په کوم ځای کې چې لمونځ کوي په همغه ځای کې دې د اعتکاف د پاره خیمه یا پرده ولګوی .

هغه کارونه چې په اعتکاف کې حرام دي .

دوه ډوله کارونه په اعتکاف کې حرام دي :

لومړی قسم دا چې بې له ضرورته د اعتکاف له ځای څخه وتل حرام دي

ضرورتونه دوه قسمه دي طبعي ضرورتونه لکه : خوړل ،څکل ،جنابت ، قضاي حاجت .

دوهم قسم شرعي ضرورتونه مثلاً د جُمعي د لمانځه د پاره جامع جومات ته تلل .

- د ضروریاتو لنډ تفصیل :

۱- په جومات کې د رفع حاجت ځای نه وي نوخپل کور ته د رفع حاجت د پاره تلای شي د رفع حاجت وروسته به فوراً جومات ته ځي هلته به وخت نه تیروي .

۲- د فرض غسل د پاره چې احتلام ورته شوی وي که په جومات کې ځای نه وي بهر تلای شي مګر دمستحب او سنت غسل د پاره نشي تللای .

۳- که نوموړی جومات جامع نه وي د جُمعی د لمانځه د پاره جامع جومات ته تلای شي خو سنت به همدلته کوي د فرض لمونځ او خطبي وروسته به بیرته راځي نور سنت به هم په خپل ځای کې ادا کوي .

۴- که د خوراک او څکاک یا د اواسه د اوبو راوړلو څوک نه لري نو دهغه د پاره کور ته تلای شي .

۵- د کوم ضرورت د پاره چې د باندې وځي د هغه د پوره کولو وروسته به فوراً بیرته راځي او بهر به نه تم کیږي او نه به بې ضرورته د چا سره خبرې کوي .

همدارنګه نن سبا ډیری کسان په مبایل کې بغیر د ضرورت نه مصروف وي نومعتکف ته لازمه ده څو له اړتیا پرته په مبایل کې مصروف نشي، که نه، شوني ده ټول زحمت او عبادت یې له منځه لاړ شي.
۶- د جومات نه د باندې وتلو مطلب دادی چې په څومره ځای کې چې په عام طور لمونځ ادا کیږي هغه حصه په جومات کې شامله ده نور د جومات تشنابونه ، د اوداسه ځایونه ، احاطه وغیره په جومات کې شامل نه دي که بې ضرورته ووتلو نو اعتکاف یې ماتیږي .

## په اعتکاف کې حرام یا مکروه تحریمي کارونه

۱- جماع کول که قصداً وي یا سهواً په جومات کې د ننه وي یا بهر اعتکاف ماتوي
۲- د ښځې ښکلول یا ور تر غاړه کیدل مکروه تحریمي دي .
۳- په اعتکاف کې بالکل چوپ پاتیدل مکروه تحریمي دي یعنی دی به څه ناڅه خپل وخت په تلاوت ،نفلو،ذکر،دیني مطالعه او دیني کتابت تیروي .
۴- کوم دینوي کار تر سره کول که په کور کې څوک نه وي نو بیا د ضرورت رفع کول باک نه لري .

## دقرآن او روژي شفاعت

**(الصیام والقران یشفعان للعبد یقول الصیام ای رب انی منعته الطعام والشهوات بالنهار فشفعنی فیه ویقول القران منعته النوم باللیل فشفعنی فیه فیشفعان) البیهقي فی شعب الایمان دریم ټوک (۳۷۸) مخ).**
روژه او قران دواړه د بنده شفاعت کوي ،روژه به وایي : ای پروردګاره ! ما دا بنده د ورځې د خوړلو،څښلو او نفسی خواهش پوره کولو نه منع کړی ؤ – نن زما شفاعت دده په حق کې قبول کړه ، او قران به وایي ما دی د شپې له خوب او آرام نه منع کړی ؤ الهی ! نن دده په حق کې زما شفاعت قبول کړه ، د روژې او قران دواړو شفاعت به ددی بنده په حق کې قبول شي (ددی بنده سره به د مهربانی او مغفرت معامله وشي او دده د پاره به د جنت فیصله وشي او په خاصو رحمتونو سره به وپالل شي .

ترتیب کونکی عبدالستار(خادم)